

# د المونيم (ALUMINUM) څخه جوړ د پخلي لوښو کې سرب

**سرب يو خورا زهرجن فلز دی.** دا په ځانګړې توګه د کوچنيو ماشومانو لپاره زيانمن دی ځکه چې هغوی لاهم وده او پرمختيا کوي. د سربو سره مخ کيدل ممکن ډېرې بېلابېلې روغتيايي ستونزې رامينځته کړي، لکه:

- دماغ او عصبي سيستم ته زيان
- د ودې او پرمختيا ورو کيدل
- د اورېدلو او خبرې کولو ستونزې
- د زده کولو او د چلند ستونزې

د دې معلومولو لپاره چې آيا ستاسو ماشوم د سربو خطر سره مخ دی او که نه دی، ترټولو غوره طريقه په وينه کې د سربو معاينه ترسره کول دي. يو د روغتيا خدماتو چمتو کوونکي سره د خپل ماشوم په وينه کې د سربو معاينه ترسره کولو په اړه خبرې وکړئ.

**له بده مرغه، ډېر توکي ممکن سرب ولري.** حتی هغه توکي چې تاسو يې ممکن تمه نه لرئ، چې پکې دوديز د پخلي لوښي لکه وارد شوي د المونيم څخه جوړ د پخلي لوښي او فشار کوکرونه شامل دي. هغه خواړه چې د المونيم څخه جوړ د پخلي لوښو او فشار کوکرونو کې چمتو کيږي، ممکن د سربو څخه ککړ شي. د سربو څخه ککړ شوي خواړه د خلکو لپاره خورا خطرناک دي.



*د کينګ کاونټۍ د خطرناکو کثافاتو اداره کولو برنامه (King County Hazardous Waste Management Program) د دې عکس واکمنتيا لري.*

**خپل دودونه پداسې حال کې ترسره کړئ چې تاسو د سربو سره مخ کيدو خطر څخه خوندي پاتې شئ:**

- د ستينليس سټيل څخه جوړ د پخلي لوښو کې خوندور خواړه پاخه کړئ. دا د سربو د شتون لږ احتمال لري.
- د المونيم څخه جوړ شويو د پخلي لوښو کې او يا فشار کوکرونو کې خواړه مه ذخيره کوئ. د فلز دننه شتون لرونکي کوم سرب ممکن خارج شي او خواړه ککړ کړي. پرځای يې د شيشې په لوښو کې خواړه ذخيره کړئ.
- د لرګي يا د سيليکون (silicone) څخه جوړ شوي د پخلي لوښي وکاروئ. دا به د دې مخه ونيسي چې فلز د پخلي په وخت کې وخريږي. که چيرې فلز وخريږي نو دا کولی شي چې په خواړو کې سرب خپور کړي.
- هغه مصالحې وپيرئ کومې چې په متحده اياالاتو (United States) کې پلورل کيږي. ستاسو خواړه به لاهم خوندور وي، او د سربو څخه به پاک وي.
- هڅه وکړئ چې په ورو يا متوسط درجه اور سره خواړه پاخه کړئ، او ټول لوښي په ګرمو اوبو سره په لاسو سره ومينځئ.

Virginia Childhood Lead Poisoning Prevention Program

VDH VIRGINIA DEPARTMENT OF HEALTH

نور معلومات دلته ترلاسه کړئ:
www.vdh.virginia.gov/leadsafe/